# BIOGRAPHY OF ECONOMIC’S CHANCELLORS

### د پوهنمل غلام رباني شهامت ژوند لیک:

غلام رباني شهامت د غلام سخي زوی په ۱۳۵۹هـ ش کال د وردګو ولایت د چک ولسوالی د محمد یارخیلو په کلی کی زیږیدلی دی، ښاغلی شهامت خپلی لومړنی او منځنی زده کړی د ۱۳۶۵ ه ش کال څخه تر ۱۳۷۷ ه ش کاله پوری د حضرت عمر فاروق رض په عالي لیسه کې چې په چک ولسوالی کې موقعیت لری بشپړی کړی دی. او په ۱۳۷۷هـ ش کال د دولسم ټولګی څخه فارغ شوی دی.
په ۱۳۸۱هـ ش کال د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځی ته د عمومی کانکور له لاری شامل او په ۱۳۸۴هـ ش کال د همدی پوهنځی څخه په کادر کی فارغ شوی دی.
په ۱۳۸۵هـ ش کال کی د یوه خصوصی شرکت سره چی نوم یی د ( ورونوشرکت ) وو د منیجر په صفت کار کړی او په ۱۳۸۶هـ ش کال د نظارت په عالی اداره کی د معاشاتو د مدیر په حیث په څلورم بست کی مقرر شو. او په همدی اداره کی یوکال وروسته د PRR له طریقه د مالی او حسابی آمر په حیث دریم بست ته امتحان ورکړ او کامیاب شو. چی د هغی څخه وروسته په کال ۱۳۸۸هـ ش کی د نورم او ستندر د ملی اداره د مالی او حسابی آمر په حیث د آزاد رقابت له لاری مقرر شو.
پوهنمل غلام رباني شهامت په ۱۳۸۹هـ ش کال د کندهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځی ته د آزاد رقابت له لاری امتحان ورکړ او نامزد پوهیالی په حیث مقرر شو، ښاغلی استاد د تقرر سره سم د اقتصاد پوهنځی د مرستیال او تدریسی عمومی مدیر په صفت هم د دوو کلونو لپاره دنده اجرا کړی ده.
په ۱۳۹۲هـ ش کال کی د کابل پوهنتون د اقتصاد پوهنځی په مالی او بانکی څانګه کې ماستری ته شامل او په ۱۳۹۳هـ ش کال کی نوموړی دوره په بریالی توب سره پای ته ورسوله. او د همدی کال په پای کی دوباره کندهار پوهنتون ته د خپل خدمت اداء کولو لپاره ستون شو.
په ۱۴۰۲ ه-ل کال د لوړو زده کړو وزارت په غوښتنه او د ریاست الوزراء د حکم په اساس د وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د اقتصاد پوهنځی د رئیس په صفت مقرر شو، چی اوس مهال هم په همدی پوهنتون کی د پوهنځی د مسؤل او استاد په صفت خپلې مقدسې دندی ته ادامه ورکوی.
ښاغلی پوهنمل شهامت د دولتی ادارو او کندهار پوهنتون د دندی څخه علاوه په میرویس نیکه پوهنتون، کابل پوهنتون او دعوت پوهنتون کی هم د استاد په صفت دنده اجراکړی ده، چې یو شمیر علمی اثار یې په ملی او نړیوالو معتبرو ژورنالونو کې نشر ته سپارل شوی دی.
د ددی څخه علاوه ښاغلی استاد شهامت مختلفو هیوادونو ته په رسمی او غیر رسمی سفرونو کی برخه اخیستی ده چی ددغه له جملی څخه پاکستان، ایران او مالیزیا هیوادونه یادولی شو. د یادولو وړ دی چی ښآغلی استاد شهامت د خپلی کاری دوری په جریان کی د خپلو زحمتونه او ستړیاوو د کبله د مختلفو ادارو لخوا په لسو ستاینلیکونو او تقدیرنامو ستایل شوی دی.

**الیکترونیکی ادرس: [gh.shahamat@gmail.com](mailto:gh.shahamat@gmail.com)**

**د اړیکی شمیره: ۰۷۷۲۳۳۹۸۷۰**